# په قطار کې دريدل

| | |
|---|---|
| درجه | لومړۍ درجه ( له ۶ تر ۷ کلنۍ پورې) |
| د ارتیا وړ سر چیني | د کاغذي شکلونو جوړولو لپاره کاغذ، پنسل، رابرتیپ یا سریښ |
| د سرچینو لپاره بدیل انتخابونه | هیڅ |
| د پوښښ موضوع | شمیرې او عملیې |
| په نښه شوي مهارتونه | د شمیرو لوستل، د شمیرو ترتیب یا برابروالی |
| انګیزه ورکونکی | Third Space Learning |
| د اړتیا وخت | ۱۰ دقیقي جوړښت لپاره<br>۱۵ دقیقي د لوبې لپاره |
| مخکینۍ زده کړه | له ۱ څخه تر ۲۰ پورې پوهیدل |
| مرستې ته اړتیا | منځنۍ مرسته |

د لوبې قوانین:

| | |
|---|---|
| موخه | هغه ټیم ګټونکی دی چې لومړی خپل ځانونه په سمه توګه مرتب کړي. |
| قوانین | لوبغاړي په ۲ ګروپونو سره وویشئ<br><br>هر لوبغاړي ته یوازې یو ځل شمیره ویل کیږي |
| مرحلې | لومړۍ مرحله: د خپل ورغوي په اندازه د کاغذونو ټوټې جوړې کړئ. له ۲۰ څخه لاندې شمیرو دوه د مسلسل عددونو ګروپونه ولیکئ. د کاغذونه شمیر باید د لوبغاړو د شمیر سره یو شان وي.<br><br>دویمه مرحله: د رابرتیپ په کارولو سره د کاغذونو ټوټې د لوبغاړو په شاه و نښلوئ او لوبغاړي باید له خپلو شمیرو څخه خبر نه وي.<br><br>دریمه مرحله: لوبغاړي په لوړ غږ یو د بل شمیرې په خپلو ګروپونو کې وایي/لولي.<br><br>څلورمه مرحله: په هماغه ګروپ کې د شمیرو په اساس لوبغاړي باید خپل ځانونه په عددي ترتیب سره برابر کړي.<br><br>پنځمه مرحله: هغه ګروپ ګټونکی دی چې لومړی خپل ځانونه مرتب کړي |
| انځورونه | هیڅ انځور |

| | |
|---|---|
| د لوبې بدلون | د مسلسل اعداد پر ځای، لوبغاړو ته هغه اعداد ورکول کیږي چې د ۲ یا ۳ شمیره پکې له منځه تللي وي. نو په همدې اساس هغوی باید خپل ځانونه د ۲ یا ۳ عددونو په ضربولو سره ترتیب کړي.<br><br>د لویو اعدادو د ترتیب پر ځای، له لوبغاړو څخه وغواړئ چې د کوچنیو اعدادو په ترتیب سره ځانونه برابر کړي. |

| | |
|---|---|
| | د عددونو ترتیب کولای شي چې ۱ څخه تر ۵۰ پورې لوړ شي |
| تقویتي برخه | د ځیني هندسي تمرینونو لپاره، له زده کوونکو څخه وغواړئ چې په مستقیم خط یا نورو شکلونو په شان ځانونه برابر کړي |
| آسانتیا | که چیرته لوبغاړي د خپلې شمیرې د ځو ځل ویلو ته اړتیا ولري، نورو لوبغاړو ته اجازه شته چې له هغه سره مرسته وکړي او شمیره ور په یاد کړي.<br><br>له ۱ – ۲۰ پر ځای، د عددونو ترتیب کولای شي چې له ۱ – ۱۰ پورې شي |